مسئوليت متن و شکل بدوش نويسندهٔ مضمون ميباشد، عقيدهٔ نويسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاين نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آريا ۲۰۲۲/۰۴/۰۷

د افغانستان سياسي - تأريخي ژرونال
يا
د افغانستان سياسي - تأريخي گزيتر

دريم ټوک
پنځه نويمه برخه
هرات

او
او د افغانستان شمال لويديځي برخې
تصحيحات

ډاکټر لودويک . ډبيلو . ادمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA
1975

لودويک آدمک

اروچ: اروج: دا د يوهٔ کلي نوم او له لرگيو يعني په ونو ډکي د يوهٔ تنگي ناوې يا منځغري نوم دی چې د اوبې د ختيځ په ۱۸ مايلی کې د هري رود په شمال کې دباندې راوځي. دلته څوک ژوند نـهٔ کوي. د کرخ وگړي دلته خپل کار او کرهنه کوي. (ډابس ۱۹۰۴). دا نوم د ارويجي په ډول هم ليکل کېږي.

ارزن آباد: ۱۷ – ۳۴، ۴۲ – ۶۲: د تونيان د ختيځ په ۱۲ مايلی کې د دولت يار د سرک پر غاړه يو کلی دی. د کلي ملک يو مـُغل دی چې عبدالله نومېږي. دلته د مغولانو ۵۰ کورنی ژوند کوي. کليوال ۳۰ کورني څاروي، ۱۴۰۰ پسونه او وزې او ۴۰ آسونه لري. د کلي خلک ۱۰ قلبې ځمکه لري چې هره قلبه ئـې په منځني ډول ۴۰ خرواره حاصل لري. (ونليس ۱۹۰۴). *اوسنی نقشې دا نوم د زمان آباد په نامـهٔ ښيي.*

اسبولاق: – ۳۴، – ۶۲: دا په کرخ کې يو کلی دی. د دين ياري قومي ټبر ۵۰ کورنی په کې ژوند کوي. (اې. بې. سي.)

آسيا بادک: ۰- ۳۵ ، ۳۰ – ۶۱ (ن): د هرات د درې په شمال کې د غرونو د سر يو کوتل دی چې د غرهٔ په لمن کې د آسيا بادک په نامـهٔ له يوهٔ ځايه پيل کـېږي، آسيابادک د رباط سرخ او چشمـهٔ سبز تر منځ سرک پر غاړې واقع دی. آسيا بادک د رباط سرخ د کوتل له اوب چينې څخه ۲/۱ ۳ مايله او له پـَدَگي څخه ۷ يا ۸ مايله ليرې دی. دا سرک د خوږ پر غاړه پرمخ ځي، دا خوږ د رباط سرخ تر کوتل لاندې د غونډيو په گډون د درې د لوړو سيمو ټولې اوبـهٔ په ځان کې راغونډوي. دا خوږ د اوبو چينې هم لري.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ویل سوي چې دا سړک د آسونو د تګ لپاره عملي دی خو د اوښانو لپاره عملي نـۀ دي. دا سړک د غرۀ له لومړۍ لړۍ څخه په اوښتلو کيڼ خوا ته کوږوالی لري او د درې پر سر تللي لاره د رباط سرخ چيني او کوتل ته تللي ده.

د غرونو په منځ کې لږ وړاندې يو چيرې چهارچشمه ده او ښايي چهار چشمې ته کومه اساسي لاره تللې وي خو موږ په دې هکله دقيق معلومات نـۀ لرو دا کوتل سم نـۀ دی پلټل سوی. (اې. بي. سي) د آسيا بادک کلی د کوهسان د شمال ختيځ په نـېږدې ۳۶ مايلۍ کې واقع دی.

* **آسيا ديو**: آسيا ديب: ۵۵ ـ ۳۴، ۴۱ ـ ۶۱: د ګلرانو د سويل په ۱۵ مايلۍ کې د رودِ ګلران پر غاړه دوه کوچني کلي دي.

آسيا وانک: ۲۷ ـ ۳۴، ۲۹ ـ ۶۲: لوړوالی: ۳۶۷۰ فيټه. د هري رودِ له درې څخه تر کرخ پورې د تللي سړک پر لاره د يوۀ کوتل نوم دی. دا سړک له اَو ګرمک څخه د يوۀ خوړ پر غاړې پورته خـېږي چې لاره ئـې دبرينه او تنګه ده، او له ۹ مايلو مزل وروسته کوتل ته رسـېږي. کوتل ته د ختلو د سختوالي اندازه چنداني ډيره نـۀ ده او آسانه کوتل دی، دلته خاوره نرمه ده او سړک په آسانۍ سره جوړيدلای سي خو له دې چې لويديځ لور ته د رودِ کرخ ښـۀ سړک زښت ډېر نـېږدې دی نو دې کار ته کومه اړتيا نـۀ سته. دا کوتل آسانه او ټيټ دی. له کوتله کښته کيدل په شمالي ډډې کې کـېږي او آسانه دی خو ورسره بايد ووايو چې خوړ لا هماغسې تنګ پاتې کـېږي. د سړک په لسم مايل کې د مچ کندک د کلي مخامخ لوري کې سړک د رودِ کرخ غاړې ته راوځي. (پيکاک)

* **اسکـک**: کاريز: ۴۹ ـ ۳۲، ۳۹ ـ ۶۱ (ن): د انار درې د شمال په ۴ مايلۍ کې يو کلی دی.

اسلم رباط: ـ ۳۴ ، ـ ۶۲: ويل سوي چې دا د هرات په ولسوالۍ کې يو کلی دی او ۴۰ کورونه لري. (پيکاک)

آستانه: ۵۰ ـ ۳۳، ۳۶ ـ ۶۳ (ن): دا په فارسي کې د خرم شهر د سويل ختيځ په ۴ مايلۍ کې يو کلی دی. دې کلي کې د حسيني تايمنيانو ۲۰ کورونه ودان دي. (اې.بي.سي) *دا کلی د تولک د سويل لويديځ په ۲۰ مايلي کې واقع دی.*

عطاء الله خان: ـ ۳۲، ـ ۶۱: دا د قلعـۀ کاه په ولسوالۍ کې يو کلی دی. دې کلي کې ۱۵۰ کورنۍ ميشتې دي چې کليوال ئـې ۶ پګو ځمکه، ۴ انګور باغونه او ۴ د ميوو باغات لري. د اوبو د موجوده سرچينو تر څنګ دلته دوه نا کارَول سوي کاريزونه هم سته. (ايس. ايم. له بومي معلوماتو څخه. ۱۹۰۵)

آتشان دشت: ۳۷ ـ ۳۳، ۵۴ ـ ۶۰ (ن): لوړوالی: ۳۰۰۰ فيټه. دا نوم د پاړسو ـ افغان د سرحد د يوې برخې يوې ډېرې لوې دښتې ته ورکړل سوی دی چې د لارې په منځ کې ئـې د لاش ـ جوين او بيرجند کوتلونه مخې ته راځي. دې دښتې ته ځکه دشتِ آتشان وايي چې خلک د همدې دښتې په يوې غونډۍ کې د خپلو توپکو لپاره بکره يا اور اچوونکې ډبرې مومي. دا دښته وړاندې شمال ته خپل نوم په داشِ نامد بدلوي (ښايي دلته له ليکوال څخه ددشت پر ځای داش ليکل سوی ـ والله اعلم ـ ژ) (ګولد سميت)

* **آتش خانه**: ۴ ـ ۳۲، ۳ ـ ۶۱: دا د يوۀ غره او د يوې دښتې نوم دی چې خاش ته نيږدې د خاشرودِ د لويديځ په ۸ مايلۍ کې واقع دي.

* **اوساج**: ۲۴ ـ ۳۴، ۷ ـ ۶۳ (ن): دا د اوبې له کليو څخه يو کلی دی. دې کلي کې د مغلزيو عليزيو ۴۰ کورونه دي. (ميتلند)

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

اوار بارکزي: ۲۲ ــ ۳۲، ۲۴ ــ ۶۱: دا په پشت کاه یا د قلعـۀ کاه د ولسوالۍ په شمالي برخه کې یو کلی دی. ځمکه ئـې ددولت په تصرف کې ده او اختیار وال ئـې تاجیکان مقرره کړي دي. دلته ۲۰۰ کورونه استوګن دي. (ایس. ایم. تییت له بومي معلوماتو څخه ۱۹۰۵)

اوار نورزي: ۲۲ ــ ۳۲، ۲۴ ــ ۶۱: دا د پُشت کوه یا د قلعـۀ کاه د ولسوالۍ په شمالي برخې کې یو کلی دی. دې کلي کې ۳۰۰ کورنۍ استوګنې دي. دا کلی ۱۲ پګو ځمکه، ۲۰ انګور باغونه، ۸ د میوو باغونه او یوه د اوبو ژرنده لري. ددې ترڅنګ دلته ۴ متروکه کاریزونه هم سته. (ایس. ایم. تییت. له بومي معلوماتو څخه)

* **اَو خور**: وګورئ: اَو خور: ۴۸ ــ ۳۴، ۴۷ ــ ۶۳ (ن)

آزادان: ۲۰ ــ ۳۴، ۸ ــ ۶۲: *د هرات د ښار په شمال لویدیځ کې یو کلی دی چې ۱۲۰ کورونه لري او د هرات له لویدیځ څخه څو مایله لیرې واقع دی. دې کلي کې د شیخ ابي الولید ابن راجا[1] او ابو عبدالرحمن قطیبه ابن محران المګاري[2] قبرونه دي.* (د ژباړونکي یادونه: د دغو دوه وو قبرونو د نومونو د لیکلو په بڼې چې پورته ما د انګلیسي متن له مخې لیکلې ده ډاډمن نـۀ یم)

آزاو: ۴۷ ــ ۳۳، ۵۱ ــ ۶۳: لوړوالی: ۸۴۰۰ فیټه. دا یو کوتل دی چې د فارسي ــ ورس سړک ورڅخه تیریږي او جواجه د کلي د ختیځ په ۴/۱ ۷ مایلۍ کې او د تیتان د شمال په ۷ مایلۍ کې واقع دی. همدا شان په همدغـۀ نامـۀ بل کلی د سبزوار د شمال ختیځ په ۴۴ مایلۍ کې په ۴۰ ــ ۳۳، ۳۸ ــ ۶۲ کې واقع دی.

آزاو تنګی: وګورئ: ایشلان: ۸ ــ ۳۴، ۳۲ ــ ۶۳

ازبورک: ــ ۳۲،. ــ ۶۱: دا په پشت کاه یا د قلعـۀ کاه د ولسوالي په شمالي برخې کې یو کلی دی. ویل سوي چې دلته ۷۰ غیر مستعمل کاریزونه سته. (ایس. ایم. تییت. له بومي معلوماتو څخه ۱۹۰۵)

عزیز آباد: ۲۱ ــ ۳۳، ۲۱ ــ ۶۲ (ن):دا په همیش درې کې د علیزیو یو ستر کلی دی چې د سبزوار د شمال ختیځ په ۴/۱ ۲۱ مایلۍ کې واقع دی. (اي. بي. سي.)

عزیز رود: ــ ۳۴ ، ــ ۶۲: د هرات په ولسوالۍ کې دوه کلي دي چې په دواړو کې ئـې په ګډه ټولټال ۱۹۰کورونه دي. (پیکاک، له بومي معلوماتو څخه.)

بابه بند: بندِ بابه: ۳۷ ــ ۳۴، ۴۰ ــ ۶۲ (ن): دا د غرونو یوه لړۍ ده چې په شمال کې تر هري رودِ راتاو ده. تر دې دمه هماغسې چې له نامـۀ څخه ئـې څرګنده ده دا لړۍ د بندِ بابا په نامـۀ یادیږي خو د توپچک (تیپچک)، لمان، بابا سیاه بولک، خومب آو او نیهالشیني (نهال شاني ــ ژ) لړۍ ددې لړۍ برخې دي چې له ختیځه تر لویدیځه په دغو نومونو یادیږي. تورکمنان دا لړۍ ځکه د «برخون دُنګ» یا د «برخود» د غرونو په نامـۀ یادوي چې په روسي برخه کې د برکوت غرونه دي او جغرافیه پوهان هم د هغوی د لیست له مخې همدا نومونه یادوي. اروپائیانو ته دا نومونه ټول د پارو پامیزس په نامـۀ آشنا دي.

---

[1] - Shaykh Abi al -Walid Ahmad ibn Abi Raja

[2] - Abu Abdur Rahman Qatiba ibn Mahran al Magari.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د بابا غر (کوهٔ بابا) (وګورئ د کابل ټوک) مخکې له دې چې د هرات ولایت ته ننوځي لومړی په دریو اساسي لړیو ویشل کېږي د ښاخې د څوکو په شان په دریو ښاخونو ویشل کېږي. شمالي ښاخ ئـې بندِ تورکستان دی، سویلي ښاخ ئـې بندِ بایان او منځنی یا مرکزي ئـې – چې په هکله ئـې همدلته خبرې کوو- د بابا غر دی. د هرات شمال ته او د همدې ځای ختیځ لور ته ددې لړۍ غرونه د پام وړ لوړوالی لري چې څوکې ئـې د درې له سطحې څخه له ۵۰۰۰ فیټو لوړې دي. په دې برخې کې نامتو سړکونه لوړ او ژور او تر یوې اندازې سخت دي حال دا چې د کرخ ختیځ خوا کې غرونه تر دې دمه په دقت سره نـهٔ دي پلټل سوي. د هرات د لویدیځ لوري له لوړې څوکې ورهاخوا غرونه ټیټ کېږي او کوتلونه ئـې آسانېږي، او تر هغو ټیټ کېږي چې سترګوته د ټیټې لړۍ په توګه راځي. دا لړۍ د «خومب آو» د کوتل لویدیځ ته د چهل ګزي د سیند په وسیلې په دوه وو برخو جلا کېږي او په دې توګه وروسته له دې چې د هري رودِ شمال لور ته خپل ستر کوږ والی جوړ کړي یو ناڅاپه پر هري رودِ باندې دوه غرنۍ څوکې جوړېږي.

هغه نامتو کوتلونه چې دغې لړۍ ته لاره لري له ختیځه په ترتیب سره دا دي:

یو ئـې د دولت یار شمال ته دی چې ظاهراً کوم نوم نـهٔ لري؛ همدلته کوم په نښه سوی کوتل نـهٔ په سترګو کېږي خو ویل سوي چې په کې تللی سړک یو غرنی سړک دی.

بل ئـې د کاسي شمال ته کوتل دی او ویل سوي چې دا کوتل د ګل کوتل په سویل کې واقع دی. دریم ئـې هم کوم نوم نـهٔ لري چې د آهنګران په شمال لویدیځ کې واقع دی.

ددغو کوتلونو تر څنګ نور هغه کوتلونه چې ښـهٔ پیژندل سوي کوتلونه دي دا دي: کاسه ګاو، کبودي، زرمست، بلنتو، بـــنوش دره، شتر مرده، ګـــله، پوبه، کشک رباط (چې په رباط سنګي یا رباط میرزا او اردیوان سړکونو کې ویشل کېږي) بتون، افضل، سنګ، درختِ توت، چشمـهٔ سبز، اَو سفید، اَو مزار، آسیابادک، رباط سُرخ، خمب اَو، چشمـهٔ سرخک، سنګ نوشت، کرنګو، او نهال شیني (همدا شان وګورئ بادغیس) (اې. بي. سي. میتلند)

بند بابا: د بابا کوتل: ۴۱ – ۳۴، ۱۹ – ۶۲ (ن): لوړوالی: ۷۰۶۰ فیټه. دا د هرات ددرې په شمال کې د یوې غرنۍ لړۍ پر سر یو کوتل دی.

د بابا کوتل نیغ په نیغه له هراته تر کشک پورې لاره ورکوي او همدا شان قلعـهٔ نو او بالا مرغاب ته لاره ورکوي. ویل سوي چې له هراته تر دواړو افغان تورکستان او پنجدهٔ پورې تر ټولو لنډه لاره د همدغـهٔ کوتل لاره ده او له همدې کبله ده چې دا کوتل زښت ډیر اهمیت لري.

له بلې خوا د کشک رباط کوتل لویدیځ ته ۱۸ مایله لیرې ډیر آسانه کوتل دی او لویدیځ ته ئـې د بتون کوتل لا ډیر آسانه دی. دو آو (دو آب – ژ) او قره تپې (تورغوندۍ – ژ) ته د بالا مرغاب او پنجدهٔ او مرې لپاره تللې لارې له همدغو کوتلونو څخه ځي نـهٔ د بابا له لارې. (میتلند، پیکاک)

بابویي زیارت: ۱۹ – ۳۵ ، ۵۵ – ۶۲: د قلعـهٔ نو د شمال ختیځ په ۳۰ مایلۍ کې واقع دی.

بابولایي: ۱۹ – ۳۵، ۵۶ – ۶۲ (ن): د هرات – پنجدهٔ د سړک پر غاړې له هرات څخه ۴/۱ ۱۰۸ مایله لیرې د دمې نیولو ځای دی. د قلعـهٔ نو او «کولاري» سیندونه همدلته سره یوځای کـېږي چې دواړه په ګډه کشک رودِ جوړوي. ددې ځای دقیق نوم باید (بابِ الهي) وي. دلته د دراني الکوزیو د کیږدیو استوګنځی دی، دا خلک ۸۰ اوښان، ۱۸۰۰ پسونه،

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

۲۵ آسونه، ۲۰ کورني څاروي او ۱۵ خرونه لري. دلته کومه کرهنه نـۀ ده سوې او نـۀ د ټول کال په اوږدو کې کومه کرهنه کېږي. اوبـۀ ئـې له سیند څخه دي. (ونلیس ۱۹۰۴). *دې ځای نوم باب- الهي یا بابولا هي وو.*

بابوس: وګورئ: دشتِ بابوس: ۳۰ – ۳۲، ۴۱ – ۶۵

بچ: باچ: ۲۵ – ۳۳، ۱ – ۶۲: دا په سبزوار کې یو کلی دی. دا کلی له کاهدانـک سره په ګډه ۲۰۰ کورونه لري. (اې.بي.سي.)

بادام تو: ۳۲ – ۳۴، ۵۷ – ۶۲: له کرخ څخه ۱۸ مایله پورته د کرخ د سیند پر کیڼې غاړې یو کلی دی. همدا شان وګورئ: دَواندار کوه.

* **بادار موسی زي**: ۴۲ – ۳۵، ۲۸ – ۶۳ (ن): د قیصار – چیچل د سیند پر غاړې د بالا مرغاب په شمال ختیځ کې یو کلی دی.

باد گاه: ۳۲ – ۳۴، ۲۸ – ۶۵ (ن): لوړوالی: ۷۷۲۰ فیټه. دا د چغچران په ولسوالۍ کې د (فیروزکوهیانو) د سلطان یاري قومي ډلې د ۱۰۰ کورونو د استوګنې سیمه ده.

د استوګنې دا سیمه د هري رودِ د سیند پر کیڼې غاړې له دولت یار څخه ۴/۳ ۲۰ مایله کښته واقع ده. دلته سیند په یوۀ کانال کې بهیږي چې له ۵۰ تر ۶۰ یاردو پورې ارتوالی لري او بستر ئـې په خپل منځ کې ۴- ۵ فیټه ژور دی. سون توکي په نست دي. د اوښانو د څرلو ځای په نست دی. د ۵۰۰ آسونو لپاره پریمانه وابښـۀ لري.

دره دلته ۶۰۰ یاردِه پراخه ده او له دواړو ډډو ورباندې غرونه راسپارۀ دي.

ددې سیمې استوګن کلیوال ۱۰۰۰ پسونه، ۱۳ آسونه، ۱۳۰ کورني څاروي لري. د دوبي د استوګنې سیمه ئـې هفتاد چشمه ده. (میتلند، دابس) *یوبل ځای دی چې د قشلاق بادگاه په نامـۀ یادېږي او په ۱ – ۳۵، ۵۸ – ۶۴ کې واقع دی.*

بادغیس: ۳۰ – ۳۴ تر ۰ – ۳۶، ۶ – ۶۲ تر ۰ – ۶۵ پورې: په ۱۹۶۴ز کال کې د بادغیس ولایت د هرات په شمال ختیځ کې له لوی حکومت (حکومتِ کلان) څخه تشکیل سوی دی. بادغیس د ۲۹۳۱۶۹ کیلومتر مربعي مساحت په *لرلو سره د افغانستان لسم لوی ولایت دی. د بادغیس ولایت اداري مرکز قلعـۀ نو دی. بادغیس په دغو اداري واحدونو ویشل سوی: د جوَند ولسوالي؛ کشکِ کهنه: علاقه داري، مرغاب لومړی درجه ولسوالي؛ او قادس څلورمه درجه ولسوالي. دا ولایت درې اساسي سیندونه لري: مرغاب، کشک او قلعـۀ نو. د بادغیس مهم کوتلونه دا دي: بندي خیر، زرمست، سبزک، یخک او ارچالیق. دې ولایت کې د لرغونو مهالونو آرکیالوژیکي ساحات سته د بیلګې په توګه قلـعـۀ کوه نریمان. دا کلا له پخو خښتو جوړه سوې ده خو په هکله ئـې دومره معلومات په لاس کې نـۀ سته چې کله جوړه سوې ده. ددې کلا په منځ کې یو زیارت دی چې د امام اصغر زیارت نومېږي. بل زیارت د خواجه عبدل په نامـۀ دی چې په کوۀ لمان کې دی، او یو ئـې د خواجه عبدالقاسم دی چې د خیرستان په کلي کې دی.*

د بادغیس اقتصاد عمدتاً پر کرهنې ولاړ دی. پستې، غله باب، د قره قل پوستکي ددې ولایت عمده صادارت دي. د زراعت او مالداری د کوپراتیفونو د معلوماتو له لارې هڅې کېږي چې اقتصاد ته وده ورکړل سي او هم د غالیو د تولید او د تولیدي صنایعو د پراخولو له لارې هڅې تر لاس لاندې دي چې اقتصاد وده وکړي. په ۱۳۴۶ / ۱۹۶۸ز کې د افغانستان

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د عظمی د صدارت له پلوه د خپرو سویو پرمختیایی معلوماتو لپاره په راتلونکو پاڼو کې جدولونه وګورئ. بادغیس په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول تشریح سوی دی:

بادغیس کولای سو داسې تعریف کړو چې په شمال کې له روسي سرحد سره او په سویل کې له سیاه بوبک یا پاروپامیزس سره واقع دی. په شمال کې روسي سرحدي لیکه له ذوالفقار څخه تر قلعـهٔ ولي پورې ده. لویدیځه او ختیځه پوله ئـې هري رود یا تجند او د فیروز کوهي سیمه ده. سره له دې چې دا ټوله سیمه د مرغاب او د کاشان د سیند د بستر په ګډون له سیاسي اړخه په بادغیس کې رانغاړل کیږي خو باور دا دی چې لوی بادغیس یوازې د هري رود او کشک د سیند تر منځ واقع دی.

د ولسوالیو او علاقه داریو لپاره د کروندګرو او تر کښت لاندې ځمکو احصائـیوي اټکل									
بادغیس		کلي	کروندګر وګړي	ځمکوال	تر کښت لاندې ځمکه په جریب			تر کښت لاندې ځمکه په هکتار		
					خروبه	للمه	ټولټال	خروبه	للمه	ټولټال
شمیره	ولسوالي									
۱	جوَند	۶۹	۴۵۱۴۰	۵۲۳۰	۱۸۸۷۰	۹۷۰۴۰	۱۱۵۹۱۰	۳۷۷۴	۱۹۴۰۸	۲۳۱۸۲
۲	غورماچ	۳۲	۳۴۵۲۰	۳۱۰۰	۲۶۸۲۰	۸۱۶۳۰	۱۰۸۴۵۰	۵۳۶۴	۱۶۳۲۶	۲۱۶۹۰
۳	قادس	۵۰	۴۴۸۳۰	۸۹۷۰	۲۶۷۰۰	۹۲۳۸۰	۱۱۹۰۸۰	۵۳۴۰	۱۸۴۷۶	۲۳۸۱۶
۴	مرغاب	۴۳	۴۶۹۲۰	۷۳۶۰	۴۵۱۲۰	۷۴۸۳۰	۱۱۹۹۵۰	۹۰۲۴	۱۴۹۶۶	۲۳۹۹۰
۵	قلعـهٔ نو	۱۰۸	۶۷۸۳۰	۱۰۲۵۰	۲۸۴۱۰	۱۶۰۲۲۰	۱۸۸۶۳۰	۵۶۸۲	۳۲۰۴۴	۳۷۷۲۶
۶	کشک کهنه	۵۴	۵۶۰۲۰	۳۴۰۰	۲۰۶۰۰	۹۷۸۸۰	۱۱۸۴۸۰	۴۱۲۰	۱۹۵۷۶	۲۳۶۹۶
ټولټال		۳۵۶	۲۹۵۲۶۰	۳۸۳۱۰	۱۶۶۵۲۰	۶۰۳۹۸۰	۷۷۰۵۰۰	۳۳۳۰۴	۱۲۰۷۹۶	۱۵۴۱۰۰

د ولسوالیو او علاقه داریو لپاره د چرګانو او کورنیو څارویو د ساتنې احصائـیوي اټکل											
بادغیس		پسونه	ګره قل پسونه	وزې	احشام یا کورنۍ څارویو	میشې	آسونه	اوښان	خرونه	کچرې	چرګان
شمیره	ولسوالي										
۱	جوَند	۲۶۵۸۱۰	۸۰۰	۷۵۰۹۰	۹۹۵۰	۳۱۰	۱۵۷۰	۱۱۸۰	۵۹۴۰	—	۴۰۶۵۰
۲	غورماچ	۱۳۳۷۰۰	۶۶۵۰۰	۲۵۲۹۰	۸۶۷۰	—	۱۷۰۰	۱۲۷۰	۲۹۶۰	—	۲۹۸۱۰
۳	قادس	۲۷۴۳۲۰	۸۰۰۰	۴۴۲۶۰	۲۱۲۶۰	—	۳۱۵۰	۱۵۰۰	۳۳۵۰	۶۰۰	۳۰۴۶۰
۴	مرغاب	۴۶۰۶۲۰	۵۷۴۰۰	۸۱۲۶۰	۳۶۰۸۰	—	۲۸۷۰	۵۱۳۰	۱۲۹۵۰	۶۱۰	۲۶۴۷۰
۵	قلعـهٔ نو	۱۸۱۳۵۰	۲۶۲۲۰۰	۵۲۰۷۰	۱۹۴۰۰	—	۵۲۶۰	۳۲۳۰	۹۸۸۰	—	۵۰۶۵۰
۶	کشک کهنه	۷۷۸۶۰	۷۷۸۵۰	۸۶۸۰	۸۱۴۰	۱۰	۱۲۴۰	۱۲۰۰	۲۸۷۰	—	۱۱۵۸۰
ټولټال		۱۳۹۳۶۶۰	۴۷۲۷۵۰	۲۸۶۶۵۰	۱۰۳۵۰۰	۳۲۰	۱۵۷۹۰	۱۳۵۱۰	۳۷۹۵۰	۱۲۱۰	۱۸۹۶۲۰

زراعتي محصولات – په کابلي سیر								
بادغیس		خروبه ځمکه	للمي حاصلات	ټولټال	ترکاري - سابه	نور حاصلات – غیر مغذي حاصلات	مؤقت حاصلات	میوی
شمیر	ولسوالی							
۱	جوَند	۳۹۶۴۳۰	۸۲۴۸۴۰	۱۲۱۲۱۸۰	—	—	۶۹۳۳۰۰۰	۷۲۷۴۴۰
۲	غورماچ	۸۳۳۷۲۰	۶۹۳۷۷۰	۱۵۲۷۴۹۰	—	۱۲۴۷۰	—	۳۳۶۰۰۰
۳	قادس	۷۱۰۲۲۰	۷۸۳۸۷۰	۱۴۹۴۰۹۰	—	—	۱۹۹۵۰۰	۷۴۴۲۴۰
۴	مرغاب	۹۰۰۲۲۰	۱۳۶۱۸۷۰	۲۲۶۲۰۹۰	۱۸۶۶۶۰	۱۹۴۰۰	۱۵۳۳۰۰	۷۲۷۴۴۰
۵	قلعـهٔ نو	۱۲۰۷۶۴۰	۶۳۵۹۷۰	۱۸۴۳۶۱۰	۵۲۶۳۲۰	۶۷۶۶۰	۳۵۴۹۰۰	۷۹۱۲۸۰

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

۶	کشک کهنه	۹۷۹۲۶۰	۸۳۱۹۸۰	۱۸۱۱۲۴۰	۳۵۳۴۳۰	—	—	۲۵۵۳۶۰
ټولټال		۵۰۲۷۴۰۰	۵۱۳۲۳۰۰	۱۰۱۵۹۷۰۰	۱۰۶۶۴۱۰	۹۹۵۳۰	۱۴۰۰۷۰۰	۳۵۸۱۷۶۰

ترکښت لاندې ځمکې او د اوبو لګولو سرچینې											
بادغیس		کروندې په جریب				ټولټال	د سرچینو شمیر				
شمیر	ولسوالۍ	کانالونه	اوب چښې	کاریز	څاه ګانې		اوب چښې	کاریز	څاه ګانې	اوب چښې	د اوبو ژرندې
۱	جوَند	۱۴۳۷۰	۴۵۰۰	—	—	۱۸۸۷۰	۲۳	۵	—	—	۱۰۶
۲	غورماچ	۱۷۸۲۰	۹۰۰۰	—	—	۲۶۸۲۰	۱۱	۱۰	—	—	۳۰
۳	قادس	۷۰۳۰	۷۷۰۰	۱۱۷۹۰	—	۲۶۷۰۰	۱۱	۱۰	۱۵	—	۱۱۶
۴	مرغاب	۳۱۵۲۰	۱۳۶۰۰	—	—	۴۵۱۲۰	۲۹	۱۹	—	—	۱۰۶
۵	قلعهٔ نو	۱۸۰۸۰	۶۳۳۰	۴۰۰۰	—	۲۸۴۱۰	۷	۳	۸	—	۹۰
۶	کشک کهنه	۱۲۴۵۰	۲۱۵۰	۶۰۰۰	—	۲۰۶۰۰	۳۹	۳	۷	—	۵۲
ټولټال		۱۰۱۲۷۰	۴۳۲۸۰	۲۱۹۷۰	—	۱۶۶۵۲۰	۱۲۰	۵۰	۳۰	—	۵۰۰

د کښت وړ ځمکې ټولټال د حاصل په اساس									
بادغیس		غلات		ټولټال	ترکاري – سابهٔ	غیر مغذي حاصل	نور محصولات	میوې	د کښت وړ ځمکې ټولټال
		خړوبه	للمه						
شمیر	ولسوالۍ								
۱	جوَند	۱۰۴۳۰	۴۸۵۲۰	۵۸۹۵۰	—	—	۳۳۰۰	۴۳۳۰	۶۶۵۸۰
۲	غورماچ	۲۱۹۴۰	۴۰۸۱۰	۶۲۷۵۰	—	۱۱۰۰	—	۲۰۰۰	۶۵۸۵۰
۳	قادس	۱۸۶۹۰	۴۶۱۱۰	۶۴۸۰۰	—	—	۹۵۰	۴۴۳۰	۷۰۱۸۰
۴	مرغاب	۲۳۶۹۰	۸۰۱۱۰	۱۰۳۸۰۰	۱۲۲۰	۱۲۹۰	۷۳۰	۴۳۳۰	۱۱۱۳۷۰
۵	قلعهٔ نو	۳۱۷۸۰	۳۷۴۱۰	۶۹۱۹۰	۳۴۴۰	۳۰۰	۱۶۹۰	۴۷۱۰	۷۹۳۳۰
۶	کشک کهنه	۲۵۷۷۰	۴۸۹۴۰	۷۴۷۱۰	۲۳۱۰	–	–	۱۵۲۰	۷۸۵۴۰
ټولټال		۱۳۲۳۰۰	۳۰۱۹۰۰	۴۳۴۲۰۰	۶۹۷۰	۲۶۹۰	۶۶۷۰	۲۱۳۲۰	۴۷۱۸۵۰

د کښت وړ ځمکې ټولټال په کابلي جریب						
بادغیس		ځمکه چې هر یو کال وروسته کرل کېږي	تر کښت لاندې ځمکه	ځنګلونه	څرځایونه	ټولټال
شمیر	ولسوالۍ					
۱	جوَند	۵۱۷۲۰	۱۱۵۹۱۰	۱۲۲۰۰	۱۶۹۳۹۰	۲۹۷۵۰۰
۲	غورماچ	۴۶۱۷۰	۱۰۸۴۵۰	۵۲۶۵۰	۳۹۹۴۳۰	۵۶۰۵۳۰
۳	قادس	۵۱۵۳۰	۱۱۹۰۸۰	۱۱۱۴۱۰	۲۲۹۷۷۰	۲۶۰۲۶۰
۴	مرغاب	۸۵۷۹۰	۱۸۸۶۳۰	۷۳۵۳۰	۶۰۴۸۳۰	۸۶۶۹۹۰
۵	قلعهٔ نو	۴۶۹۳۰	۱۱۹۹۵۰	۴۹۸۰۱۰	۱۱۳۲۸۶۰	۱۷۵۰۸۲۰
۶	کشک کهنه	۵۳۰۶۰	۱۱۸۴۸۰	—	۱۸۹۶۲۰	۳۰۸۱۰۰
ټولټال		۳۳۵۲۰۰	۷۷۰۵۰۰	۷۴۷۸۰۰	۲۷۲۵۹۰۰	۴۲۴۴۲۰۰

د بادغیس سیمه کیدای سي په څلورو مشخصو برخو وویشو. دا سیمې دا دي: له لویدیځ لوري، ګلران، کشک، قلعهٔ نو او

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نور بیا

مرغاب.

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دویم ټوک او دریم ټوک ټولي برخي لوستی شی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ